مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

مصطفی پسرلی
۲۰۲۰/۱۱/۰۸

# غزل

دا سرونه په سرونو نه شمارمه
ستا نعرې په تکبیرونو نه شمارمه

هر یاغي، باغي به پور راپسي شماري
د خود سرو دا پورونه نه شمارمه

چې غزل مې په ژړا جامونه ډک کړل
جام د اوښکو په جامونو نه شمارمه

د هوسه دې لمبې کړې په ما پورې
ستا ګناه په ثوابونو نه شمارمه

ستا جنګونو مې منزل د ژوند ورک کړی
په تیارو کښې مې ګامونه نه شمارمه

پسرلېه خوره کرکه نه ورکېږي
تشو خولو تش مثالونه نه شمارمه

مصطفی پسرلی
۰۸/۱۱/۲۰۲۰


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ